# ډیره اسماعیل خان (درابن)؛ د خوارجو برید ناکام کړی شو، 5 خوارجان جهنم ته ولیګدول شو

په درابن سیمه کې ترهګرو له چاودېدونکو توکو ډک موټر او ځانمرګي بریدګر سره یو ځای برید وکړ۔ دبرید په پایله کې دځانمرګي بریدګر په ګډون 5 تنه ترهګر ووژل شوي۔

خوارج له چاودېدونکو توکو ډکه ګاړي د کمپ له دیوال سره جنګولي او له بلې خوا د یوه ځانمرګي بریدګر په ګډون 4 تنو ترهګرو کمپ ته د ننوتو هڅه وکړه۔

امنیتي منسوبینو په ډیره میړانه سره څلور ترهګر ووژل۔ خو په غټ مقدار د بارودو د چاودنې له امله د کوټې چت ونړېد او 23 امنیتي منسوبین پکې شهیدان شول۔

په افغانستان کې پټ د ټی ټی پی بزدله مشران ناکامه هڅه کوي چې د دې برید سره د تحریک جهاد پاکستان په نوم له یوې فرضي تنظیم سره وتړي۔

د پاکستان ولس او امنیتي ځواکونه ښه پوهیږي چې د سولې او پرمختګ دښمن څوک دی او تحریک طالبان پاکستان څنګه د افغانستان خاوره د پاکستان پر ضد کاروي۔ ټي ټي پي د امنیتي ځواکونو په ضد ځانمرګي بریدونو ته لاره هواروي په حقیقت کې د ماتې اعتراف دی۔